**UNITED NATIONS** **NATIONS UNIES**

**د ملګرو ملتونو سرمنشي**

**--**

**د نوروز د ورځې په مناسبت پيغام**

**۲۱ مارچ ۲۰۱۰**

د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د سږ کال پريکړه چې د نوروز د نړيوالې ورځې پيژندل دی د دې ثبوت دی چې د دغې ورځې د جشن د اهميت په اړه نړيوال پوهاوي نه يوازې په هغو سيمو کې چې دا ورځ په کی لمانځل کيږی په زياتيدو دی بلکی په ټوله نړۍ کې مخ په ډيريدو دی.

د زرګونو کلونو راپه دې خوا، کله چې لمر د استواء د خط او شمالي نيمې کرې څخه تيريږي پسرلی راځي، خلک په بالکان، د توري بحيرې په حوزه،په قفقاز، مرکزي آسيا او منځني ختيځ او نورو سيمو کې په خپلو ځانګړو دودونو سره د نورزو ورځ لمانځي. دغو مراسمو کې د کورونو رنګول، د دوستانو کورونو ته ورتګ، د سمبوليکو خواړو تيارول شامل دي چې دې کې د نوښت اود نوي کولو روحيه شته او کولای شي چې نه يوزاې هغو کسانو ته چې دغه ورځ لمانځي بلکې ټولو وګړو ته الهام ورکړي.

په داسی حال کی چې موږ د لومړی ځل لپاره د نوروز نړيواله ورځ لمانځو، نو زه هيله کوم چې ټول هيوادونه او د نړۍ خلک به د دغه جشن لرغونتيا او دودونو ته په ځيرتيا سره د طبيعي نړۍ سره همغږۍ او پيوستون ته وده ورکړي او نړيواله سوله او پيرزوينه ټينګه کړي.